Pashto - عقل صحيفو - Good-Bad Mind Scriptures

Good Mind Scriptures

مرقوس 5:15
هغوئ عيسىٰ له راغلل اَؤ هغه ليونے چه دَ پيريانو لښکر نيولے وُو ئے وليدو چه هلته
ناست وُو اَؤ سم دم وُو اَؤ هغوئ ټول ويرے واخستل.
لُوقا 8:35 اَؤ خلق دَ دے تماشے دَ پاره بهر راووتل.
کله چه هغوئ عيسىٰ له راغلل اَؤ هغه پيريانو نيولے سړے ئے جک جوړ وليدو چه
جامے ئے آغوستے سم دم دَ عيسىٰ په پښو کښے ناست وۀ نو هغوئ ويريدل.
عمال د رسُولانو 17:11 دَ دے ځائے يهُوديان دَ تِسالُونيکيه دَ يهُوديانو نه اشراف وُو،
ولے چه هغوئ کلام ډير په اِخلاص قبُول کړو اَؤ هره ورځ به ئے صحيفے لوستلے چه
وګورى چه دا هم دغسے دى لکه چه دوئ وائى.
عمال د رسُولانو 20:19
يعنے ما پُوره په عاجزئ اَؤ ژړا سره دَ مالِک غُلامى کوله سره دَ يهُوديانو دَ سازشُونو اَؤ
آزميښتُونو چه په ما راغلل.
رُوميانو 7:25 زمُونږ دَ مالِک عيسىٰ مسيح په وسيله دَ خُدائے شُکر دے!
غرض دا چه زَۀ په باطن کښے دَ خُدائے دَ شريعت خدمت کوم خو په اِنسانى فطرت
کښے دَ ګُناه دَ شريعت خدمت کوم.
رُوميانو 8:6
په اِنسانى فطرت کښے دَ اوسيدلو اَنجام مرګ دے اَؤ په رُوح کښے دَ اوسيدلو اَنجام
ژوندُون اَؤ سلامتى ده.
رُوميانو 8:27 اَؤ خُدائے څوک چه زمُونږ دَ زړُونو ليدُونکے دےُ،
هغۀ ته دا معلُومه ده چه دَ دے رُوحُ القُدس خيال څۀ دے ځکه چه هغه دَ خُدائے دَ خلقو
دَ پاره دَ خُدائے دَ مرضئ په مُطابق شفاعت کوى.
رُوميانو 11:34 دَ خُدائے په اِراده څوک پوهيدے شى؟ څوک دَ هغۀ صلاح کار شو؟
رُوميانو 12:2
خپل ځان دَ دے موجُوده دُنيا په شان مه جوړوئ،بلکه بويه چه ستاسو پوهه بيا نوے
کړے شى اَؤ دَ دے په وسيله ستاسو فطرت بلکل بدل شى. بيا به هله تاسو دَ دے قابل
شئ اَؤ په دے به پوهه شئ چه دَ خُدائے رضا څۀ ده اَؤ دا به وپيژنئ چه هغه ښه څۀ
دے چه قبليدُونکے اَؤ کامل دے.
رُوميانو 12:16 پخپلو کښے په يو زړۀ اوسئُ،
لوئے لوئے خيالُونه مه زغلوئ اَؤ دَ خوارانو خيال ساتئ اَؤ خپل ځان هوښيار مه بولئ.
رُوميانو 14:5
څوک خو داسے دے چه يوه ورځ په نورو ورځو افضله ګڼى اَؤ څوک ټولے ورځے يو

برابر،خو هر سړے دے په خپل زړۀ کښے پخه عقيده لری.
رُوميانو 15:6 دَ دے دَ پاره چه تاسو په يو زړۀ اَؤ يوه ژبه دَ خُدائےُ،
زمونږ دَ مالِک عيسیٰ مسيح دَ پلار لوئی بيان کړئ .
1 کورنتيانو 1:10
نو اوس اَئے ورُونړو،عيسیٰ مسيح چه زمُونږ مالِک دے،دَ هغۀ دَ نُوم په وسيله تاسو ته خواست کوم چه ټول يو شئ اَؤ ډلے پړے مه جوړوئ،خو په يو عقل اَؤ پُوره په يوه رائے شئ.
1 کورنتيانو 2:16
څنگه چه صحيفے وائی چه: دَ مالِک په خيالُونو څوک پوهيدے شی چه هغۀ ته ئے صلاح ورکړی؟ خو مُونږ دَ مسيح په شان عقل لرُو.
2 کورنتيانو 7:7
نۀ تش دَ هغۀ په راتلو بلکه دَ هغۀ په هغه تسلئ چه هغۀ ته له تاسو نه ورکړے شوے وه،اَؤ چه هغۀ مُونږ خبر کړلُو چه تاسو زما په ليدو پسے څومره ليواله يئ اَؤ چه ډير اَفسوس کوئ اَؤ زما ملگرتيا کوئ نو په هغوئ زَۀ نور زيات خوشحاله شوم.
2 کورنتيانو 8:12 (1 کرونيکل 28:9
ځکه چه که نيت وی نو خُدائے چنده دَ هغے په مُطابق قبلوی څۀ چه دَ سړی سره وی،نۀ چه دَ هغے په مُطابق چه دَ هغۀ سره نۀ وی.
2 کورنتيانو 9:2
ځکه چه زَۀ ستاسو دَ شوق نه خبر يم چه دَ هغے په وجه دَ مِکدونيه دَ خلقو دَ وړاندے زَۀ په تاسو فخر کوم چه دَ اخيه خلق دَ تير کال نه تيار دی اَؤ ستاسو جوش ډير خلق راوپارول.
2 کورنتيانو 13:11
نو اَئے ورُونړو! خُدائے مو مل شه،کامل شئ،خاطر جمع لرئ،په يو اتفاق اوسئ،صُلح ساتئ،نو دَ مينے اَؤ دَ سلامتئ خُدائے به تاسو سره وی.
اِفِسيانو 4:23
په کار دی چه ستاسو زړۀ اَؤ دماغ دِ بيخی نوے شی. ۲۴ اَؤ نوے اِنسانيت خپل کړئ کُوم چه دَ خُدائے په مُطابق دَ حقيقت په صداقت اَؤ پاکوالی کښے ښکاره کيږی.
فيليپيانو 5-2:2
نو تاسو زما خوشحالی پُوره کړئ چه په يو زړۀ،په يو شان مينه اَؤ يو خيال ولرئ. ۳ دَ خود غرضئ اَؤ بے ځايه فخر په وجه څۀ مه کوئ،بلکه په عاجزئ يو بل دَ ځان نه غوره گڼئ. ٤ هر يو دِ تش په خپل حال نه بلکه دَ يو بل په حال هم نظر ساتی. ٥ هم هغه شان خُوئ لرئ لکه څنگه چه دَ مسيح عيسیٰ وُو
فيليپيانو 4:2
زَۀ يُووديه اَؤ سُنتخے ته خواست کوم چه هغوئ دِ دَ مالِک په يووالی کښے په يو زړۀ

پاتے شی
فیلیپیانو 4:7 (یشعیاه 26:3
نو دَ خُدائے سلامتی چه دَ پوهے نه بیخی بهر ده،ستاسو زړُونه اَؤ خیالُونه به دَ مسیح عیسیٰ په یووالی کښے محفُوظ وساتی.
کولوسیانو 3:12
نو بیا تاسو دَ خُدائے خلق یئ،هغهٔ تاسو سره مینه وکړله اَؤ هغهٔ تاسو غوره کړیٔ،ځکه زړهٔ سواندے،مهربانی،عاجزی،شرافت اَؤ زغم واغوندئ.
2 تِسالونیکانو 2:2
چه ستاسو عقل دِ ناڅاپی پریشانه نهٔ شی اَؤ ستاسو وار دِ خطا نهٔ شی چه څوک ووائی چه مالِک ورځ رارسیدلے ده،یا دَ رُوح دَ هدایت نه په هغهٔ دا ظاهر شوے دے،یا زمُونږ دَ پیغام یا خط نه ښکاره شوے دے،نو تاسو داسے خبره مه منئ.
2 تیموتیوس 1:7
ځکه کُوم رُوح چه خُدائے مُونږ ته راکړے دے،دَ ویرے دَ پاره نه،بلک دَ قُدرت،دَ مینے اَؤ په نفس قابُو کولو طاقت دَ پاره .
تیطوس 2:6 اَؤ زلمو ته هم داسے نصیحت کوه چه هغوئ دِ تقویٰ دار شی.
عبرانیانو 8:10
بیا مالِک فرمائی چه کُومه وعده چه به دَ اِسرائیل دَ کورنئ سره دَ هغه ورځو نه پس کوم،هغه دا ده چه زَهٔ به خپل حُکمُونه دَ هغوئ په ذهن کښے واچوم اَؤ دَ هغوئ په زړُونو به ئے ولیکم،اَؤ زَهٔ به دَ هغوئ خُدائے یم اَؤ هغوئ به زما اُمت وی.
1 پطروس 1:13
دَ دے دَ پاره دَ خپل عقل نه کار واخلئ اَؤ هوښیار شئ،اَؤ دَ هغه فضل کامل اُمید لرئ کُوم چه دَ عیسیٰ مسیح دَ ظاهریدو په وخت په تاسو کیدُونکے دے.
1 پطروس 5:2
چه دَ خُدائے دَ هغه رمے شپُونتوب کوئ چه خُدائے تاسو ته درکړے ده.په زور سره ئے مه څرَوئ بلکه دَ خُدائے دَ مرضئ په مُطابق په خوشحالئ سره،اَؤ ناجائزے ګټے دَ پاره نه،بلکه دَ زړهٔ په شوق.
2 پطروس 3:1
زما دوستانو! اوس زَهٔ تاسو ته دا دویم خط درلیکم،اَؤ دَ یادګیرنے په طور دَ دواړو خطُونو سره ستاسو صفا زړُونه راپاروم،
یعقُوب 1:17 (ایوب 23:13)
هر ښهٔ بخشش اَؤ هر کامِل اِنعام دَ آسمان نه راځی اَؤ دَ خُدائے نه مُوندلے کیږی چه دَ نمر سپوږمئ اَؤ دَ ستورو پیدا کوُونکے دے. په هغهٔ کښے نهٔ خو څهٔ تبدیلی راځی اَؤ نهٔ دَ ګردش له عمل روښانه کیږی اَؤ نهٔ تیارهٔ کیږی.
مُکاشفه 17:9

اَوُ په دے پوهیدلو دَ پاره ډیر حِکمت په کار دے. دا اُووهٔ سرُونه هغه اُووهٔ غرُونه دی چه دا ښځه پرے ناسته ده،خو دویٔ هم اُووهٔ بادشاهان دی

Bad Mind Scriptures

(مرقوس 7:21 (ایجیکیل 38:10
دَ صور دَ علاقے نه په واپسئ عیسیٰ دَ صیدا په لارے دَ دِکپولس په حدُونو تیر شو اَوُ دَ ګلیل دَ دریاب علاقے ته ورسیدلو.
لُوقا 12:29 اَئے کم ایمانو!
نو ځکه تاسو دَ خوراک څښاک دَ پاره لټُون مه کویٔ،تاسو دا فکر مه کویٔ .
عمال د رسُولانو 12:20
خو دَ قبرص اَوُ کرینی ځنے مقامی خلق داسے وُو چه هغویٔ چه څهٔ وخت اَنطاکیه ته راغلل نو یُونانیانو ته ئے هم دَ مالِک عیسیٰ زیرے آؤرول شروع کړو.
عمال د رسُولانو 14:2
خو نهٔ منُونکو یهُودیانو دَ غیر یهُودیانو په زړُونو کښے دَ عیسیٰ دَ منُونکو خلاف نفرت پیدا کړو.
رُومیانو 1:28
اَوُ لکه څنګه چه هغویٔ دَ خُدائے پیژندل خوښ نهٔ کړل نو هغهٔ هم دویٔ خپلو باطلو خیالاتو ته پریښودل چه هم په دغسے ناکردو آخته وی
رُومیانو 8:6,7
په اِنسانی فطرت کښے دَ اوسیدلو اَنجام مرګ دے اَوُ په رُوح کښے دَ اوسیدلو اَنجام ژوندُون اَوُ سلامتی ده. ۷ ځکه چه اِنسانی فطرت لرُونکے دَ خُدائے سره دُښمنی کوی اَوُ دا دَ خُدائے دَ شریعت تابعداری نهٔ ده اَوُ نهٔ کیدے شی.
رُومیانو 11:20
ستا خبره په ځائے ده،هغویٔ په دے وجه پریکړے شوے چه ایمان ئے نهٔ راوړو اَوُ دَ ایمان دَ مخه تا خپل ځائے نیولے دے. نو فخر مه کوه بلکه ویریږه.
کورنتیانو 10:5 2
ځکه خو مُونږ دَ دلیلُونو اَوُ هر هغه رُکاوټ څیز چه دَ خُدائے دَ پیژندګلئ خلاف ئے سر اُوچت کړے دے،نړوُو اَوُ هر یو خیال قیدوُو اَوُ دَ مسیح فرمابرداره کوو.
کورنتیانو 11:3 2
خو ویریږم چه داسے ونهٔ شی لکه څنګه چه مار په خپل مکر بی بی حوا وغُلوله هغه شان ستاسو خیالات هم دَ هغه خُلوص اَوُ پاکوالی نه بل خوا شی،کُوم چه دَ مسیح سره په کار دی.
اِفِسیانو 2:3
په دویٔ کښے مُونږ ټولو هم دَ خپل وجُود په خواهشُونو کښے ژوند تیرولو اَوُ دَ وجُود اَوُ

نفس مرضی مو پُوره کوله،اَوْ نورو په شان په اِنسانی طور دَ خُدائے دَ غضب دَ لاندے وُو.
اِفِسیانو 4:17
ځکه زَهٔ دا وایم اَوْ په مالِک کښے درته دا تاکید کوم لکه چه غیر قومُونه دَ خپلو فضُولو خیالاتو په مُوافق روانِ دی،تاسو دَ آئنده دَ پاره داسے مه چلیږئ.
کولوسیانو 1:21 (مِثالُونو 21:27; ایجیکیل 23:17)
اول تاسو په خپله هم دَ خُدائے نه لرے وئ اَوْ دَ هغهٔ دُښمنان وئ ځکه چه ستاسو خیالُونه اَوْ کارُونه بد وُو.
کولوسیانو 2:18
هیچا له موقعه مه ورکوئ چه څوک دِ خپل ځان په ښهٔ ګڼلو تاسو مُجرم کوی. داسے خلق په خاص خاص کشفُونو لیدو سره بل مجبُوروی چه هغوئ خپل ځان عاجزان کړی اَوْ فرښتے خُدایان ومنی. داسے عاجزی رښتینی نهٔ ده اَوْ داسے خلق دَ خپل عقل په خبرو بے فائدے وپړسیږی.
1 تِسالونیکانو 5:14
اَوْ اَئے ورُونړو! مُونږ درته دا نصیحت کوُو چه سُستو خلقو ته خبردارے ورکوئ،کم همتو ته دلاسه ورکوئ اَوْ کمزوری راټینګوئ،ټولو سره زغم کوئ.
1 تیموتیوس 6:5
اَوْ په هغه کسانو کښے مُدام تکرار پیدا کیږی دَ چا عقل چه خراب شوے دے،اَوْ هغوئ دَ حق نه محرُوم دی اَوْ دینداری تش دَ ګټے ذریعه ګڼی.
2 تیموتیوس 3:8
اَوْ څهٔ رنګ چه ینیس اَوْ یمبریس دَ مُوسیٰ مُخالفت کړے وُو،هغه رنګ دوئ هم دَ حق مُخالفت کوی. دا هغسے خلق دی دَ چا عقل چه وران شوے وی اَوْ دَ ایمان په مُطابق قبُول شوے نهٔ وی.
تیطوس 1:15
دَ پاکو خلقو دَ پاره ټول څیزونه پاک دی،خو دَ ګُناه ګارو اَوْ بے اِیمانه خلقو دَ پاره هیڅ شے هم پاک نهٔ دے بلکه دَ هغوئ عقل اَوْ ضمیر دواړه پلیت دی.
عبرانیانو 12:3
نو بیا په هغه چا غور وکړئ چا چه دَ ګُناه ګارانو دومره مُخالفت وزغملو،چه تاسو هِمت بائے نهٔ لئ.
یعقُوب 1:8 هغه سړے دوه زړیه وی اَوْ هغه په خپلو خبرو ټینګ نهٔ وی.

Pastor T. John Franklin
Church of Salvation, Healing, and Deliverance
COS-HAD.org